**اطلاعاتو ته لاسرسی د روڼتیا او دې ښې حکومتوالی نښه ده**

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ژمن دی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په رڼا کې له وړاندې خپلې کړنې او اجرات خپاره کړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون کې، د کب له ۱۰ تر ۱۵ پورې مهم تر سره شوي کړنې.

**د عامه پوهاوي څانګه:**

- د دولت ځواب ویل ملت ته پروګرامونو څخه څارنه.

**د بشري سرچینو څانګه:**

- د سه شنبې په ورځ د ګمارنې کمېټې غونډه او څلور بستونو لپاره له ډریورانو څخه عملي او نظري ازموینو اخیستل او نوماندانو ته یې پایلې اعلانول.
- د بشري سرچینو ۴ بست په اړه د شکایت کوونکي شکایت ته رسېدنه.

**د شکایتونو څانګه:**

- د غوښتل شویو اطلاعاتو ورکولو په اړه له مالیه وزارت او لوې څارنوالی سره غونډه کول.
- د معلوماتو او ملي احصایې اداري، لوړو زده کړو وزارت او د شهیدانو او معلولین وزارت ته د غوښتل شویو اطلاعات ورکولو په اړه د کمېسیون پرېکړه لیک استول.
- اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، بدني روزنې ریاست، حج او اوقافو وزارت، لوړو زده کړو وزارت، د شهیدانو او معلولینو وزارت له اطلاع رسوني مسولینو سره د اطلاعات ورکړې لپاره د تلفوني اړیکې له لارې همغږي کول.